خبر راکړئ چې که ستاسو څخه د یو چا د دروازې په خوله کې یو نهر وي چې هغه پکې د ورځې پنځه ځلي غسل کوي، نو څه وایئ چې په هغه کې به څه خیری پاتې شي؟

له ابو هریرة رضي الله عنه څخه روایت دی هغه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي یې چې فرمایل یې: «خبر راکړئ چې که ستاسو څخه د یو چا د دروازې په خوله کې یو نهر وي چې هغه پکې د ورځې پنځه ځلي غسل کوي، نو څه وایئ چې په هغه کې به څه خیری پاتې شي؟» هغوی وویل: نه هیڅ خیری به یې پاتې نه شي، ویې فرمایل: همدا د پنځه وخته لمونځونو مثال دی، چې الله جل جلاله پرې ګناهونه پاکوي».

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم په شپه او ورځ کې پنځه وخته لمونځونه د کوچنیو ګناهونو په پاکولو کې د یو نهر په شان بللي دي چې د یو چا د کور په دروازه کې وي او هره ورځ پکې پنځه وخته غسل کوي، نو هیڅ خیری به پکې پاتې نه شي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/4968